مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سیدعبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۵/۱۵

# یو څو خرڅ شوي مسلمانان

هلته د علم بیرۍ ، د معرفت خــــــواته ځي
د علم وفن په رڼا ، مخ په وحـدت خواته ځي

دلـــــــــته زمونږ، امــــــیدونو آرما نو قافله
تورتمــو کې ده روانه، جهـالت خـــواته ځي

هلته په رښتیا هم د مدنیت بیرۍ د کهکشانونو په لور روانه ده، هلته خلکو د علم او معرفت د حصول په لیاره کی خپلی د تحقیق پښی تناکی کړي او د بشریت د سوکالي د پاره د یو پراخه ژوند د تکل له پاره په سیارو کې څیړنۍ کوی . هلته د نوی ژوند امکانات لټوي د بشر د ډیر لیری راتلونکی د پاره د بشر د سو کالي د پاره هڅي کوي او د انسانانو د رو ښانه مستقبل د پاره ، د فضا په تورو تیارو کي تحقیق کوي او د حقیقت د پلټنوله پاره خپل عزیز عمر تیروی هلته د اسرارو ډک سمندر کې د پټو اسرارو د بر بنډیدو له پاره په هاغه پراخه فضا کي غوپې وهی .

قــافله د بشر ښکته شوه سپوږمی کې
مونږ تر اوسه یو لا پاتي تروږمی کې

مد نیت انـــــګازی لاړې کهکشان ته
مونږ مشـــهوره د نړۍ شو نادانی کې

دلته زمونږ د ځینو خلکو د بصیرت سترګي ړندي وي، او د یوی تنګي کړکۍ یا دریچي څخه جهان ګوري او پـــر مو ضوعاتو د یو تنګي دریچی څخه نظر اچوی او تحلیل کوی. د دوی د عبرت د اخیستو غوږونه هم کاڼه وي. دلته د علم او معرفت دروازۍ تړل کیږي، مکتبونه سیځل کیږي . د بی ګنا انسانانو سرونه په ډیر بی رحمۍ غوڅوي . دلته په ځان مرګو بریدونو کي د عزیزانو د زړه توټي په سړکونو پرتې وي. او هلته یو څو خرڅ شوی مسلمانان په خپل ږیرو لاس ووهي او دي ته د جهاد فتوی ورکوي:

د بصیرت سترګي دي خلاصی کړه جهان ووینه
په دي زړه دنیا قدرت د پاک سبـــــــــحان ووینه

د تعصـــــــــب له دریچی نه به تر څو کړي نظر
د معرفت په نظر یو ځلی آسمــــــــــان ووینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ